# په پښتو لیک کې "نیمه فاصله"، اړتیا، ستونزې او حللارې

## Semi-Space in Pashto Writing, Problems and Solutions

اسدالله وحیدي*

**Abstract:**

Half-Space (Semi-Space) is used in some Indo-European languages. In Pashto, a number of writers use it without any linguistic norms, though few oppose this idea. This so-called space is used in and between the characters if any further space doesn't have to exist between the two words to make them get together tightly. Unlike the English language, any language that uses the Arabic Alphabet, its characters can get connected with each other. Since the Arabic Alphabet is also employed in Pashto language, the Half-Space is required to be used in Pashto writings, too. In writing, Half-Space helps convey the message eloquently, distinguish between simple and compound words, make it easily intelligible and add to the beauty of the text. Hence, it is important to use the Half-Space in our writings. The use of Half-Space will address most of the existed problems in Pashto writings, which will gradually promote the Pashto into a more standardized language. Indeed, the Half-Space has to do a lot with the composition and lexicology. It is mostly used in and between any compound and derivative words whose combination seem very difficult or, at some point, even appear to be impossible. These words are often composed of free morphemes, interconnected with bound morphemes. Therefore, we must realize the need of Half-Space in Pashto writings as Pashto writers and linguists should also keep its notion in mind, build a consensus on applying it as a whole, and let it be disseminated among the writers' community.

**Keywords:** Semi-space, Pashto language, standardized language.

**سریزه :**

په ځینو اندو اروپايي ژبو، په ځانګړې ډول فارسي کې "نیمه فاصله" کارول کېږي، خو په پښتو کې په دې اړه لا د نظر یووالی نشته. په پښتو لیک کې د "نیمې فاصلې" یا "مجازي فاصلې" د کارونې په اړه ځیني غوښتنې او بحثونه شته. ځینو لیکوالانو له وړاندې په خپل سر په پښتو لیکنو کې د "نیمې فاصلې" کارونه پیل کړې ده، خو ورسره مخالفتونه هم شته، چې دې چارې ګډوډې رامنځته کړې ده. نیمه فاصله څه ده؟ په لیک کې یې د کارونې اړتیا څه ده او له لیک سره څه مرسته کوي؟ په پښتو که ورته اړتیا شته که نه؟ که اړتیا وي، په کومو ځایونو کې باید وکارول شي؟ د کارونې لارې چارې یې

* Associate Professor ,Faculty of Languages and Literature, Kabul University, Afghanistan

څه دي؟ په دې برخه کې شته خنډونه او ستونزې کومې دي؟ بالاخره دا ستونزه څنګه حل کېږي؟ په دې لیکنه کې همدغو پوښتنو ته ځواب وایو. تر دې لیکنې پورې د نیمې فاصلې په اړه کومه تفصیلي لیکنه نشته. دا به پر "نیمه فاصله" لومړنۍ څېړنیزه لیکنه وي، چې تمه ده په دې برخه کې یو پراخ بحث ته لاره پرانیزي او موږ به واحد نظر ته ورسېږو.

**کلیدي وییونه**: نیمه فاصله، پوره فاصله، لیک، کلمه، مورفیم

نیمه فاصله څه ده؟

نیمه فاصله چې ورته مجازي فاصله هم وایي، د ځینو هغو ژبو په لیک کې کارول کېږي چې عربي توري کاروي. په فارسي ژبه کې ددې فاصلې کارول زیات دي. فاصله اصلاً دوه ډوله ده؛ یوه پوره فاصله چې موږ یې د کلمو ترمنځ کاروو او بله نیمه فاصله چې د یوې کلمې په منځ کې کارول کېږي. مثلاً: "تاریخ تېر" دوې کلمې دي چې ترمنځ یې پوره فاصله کارول شوې، خو "تاریخ‌تېر" بیا یوه ترکیبي کلمه ده، چې ترمنځ یې نیمه فاصله کارول شوې ده.

عربي توري چې په فارسي او پښتو کې پرې ځینې نور توري هم ور زیات شوي، دوه ډوله دي. یو هغه چې که ور پسې بل توری راشي، سره یو ځای کېږي، لکه «ب، پ، ج، س، ش...». دویم هغه توري دي چې له خپل راتلونکي توري سره نه یو ځای کېږي، لکه « ا، د، ډ، ذ، ر، ړ، ژ، ز، و». اوس چې کله موږ لیکل کوو، که مو د لومړي ډلې تورو ترمنځ فاصله ورکړه، نو دا پوره فاصله ده، ځکه چې که فاصله ور نه کړو، سره یو ځای کېږي. په دویمه ډله تورو کې که فاصله هم ور نه کړو، نو نه سره یو ځای کېږي او په واقعیت کې د دوی ترمنځ نیمه فاصله ده. یعنې نیمه فاصله د پوره فاصلې په اندازه نه ښکاري، خو یوازې د تورو د یو ځای کېدو مخنیوی کوي. مثلاً: د "دوران" په کلمه کې د ټولو حروفو ترمنځ طبیعي نیمه فاصله کارول شوې ده، یعنې کمپیوټر خپله د دوی ترمنځ نیمه فاصله رامنځته کړې ده. که موږ داسې ولیکو؛ "د و ر ا ن"، دا نو بیا پوره فاصله ده. خو پر کومه نیمه فاصله چې موږ بحث کوو، د هغو تورو ترمنځ فاصله ده چې هغه په طبیعي ډول سره یو ځای کېږي؛ لکه «ب او س: بس». اوس که یې ترمنځ پوره فاصله راوړو، نو داسې به وي؛ "ب س"، خو که نیمه فاصله راوړو داسې به وي "ب‌س". همدې ته نیمه فاصله وایي.

**ولې نیمه فاصله؟**

په لیک کې توري، لیکنښې او فاصلې د ځانګړو موخو لپاره کارول کېږي. فاصله او نیمه فاصله هم د لیک برخه ګڼل کېږي. فاصله او نیمه فاصله له یو ځای او جلا لیکلو سره تړلې ده چې یو مهم بحث دی. استاد زیار وایي:

> "په دې برخه کې باید لږ تر لږه درې آره او اصله له پامه ونه غورځوو: یو د وییګ او کښنګ ترمنځ نږدیوالی، دویم د التباس مخنیوی او دریم لاسي او تخنیکي اسانوالی دی..." (1)

همدا او ځینې نور لاملونه چې استاد زیار یاد کړي، په نیمه فاصله کې هم مهم دي. د نیمې فاصلې بحث په ځینو ځایونو کې له لیک سره تړلی او په ځینو برخو کې هم له وییپوهنې سره. زه دلته هم د لیک له اړخه او هم د وییپوهنې له اړخه د نیمې فاصلې د کارونې ځینې اړتیاوې او دندې یادوم:

۱- نیمه فاصله د یوې ترکیبي کلمې او دوو جلا کلمو ترمنځ توپیر کوي. یعنې که د دوو مورفیمونو یا کلمو ترمنځ پوره فاصله وي، مانا یې دا ده چې دا دوې جلا کلمې دي، خو که سره یو ځای شوې وي، یا یې ترمنځ نیمه فاصله وي، نو واحده، خو ترکیبي کلمه ده. مثلاً: (غم ځپلی، دوې کلمې دي، خو غمځپلی یا غم‌ځپلی یوه ترکیبي کلمه ده).

۲- نیمه فاصله راسره مرسته کوي، چې کمپیوټر ترکیبي کلمه د واحدې کلمې په توګه وپېژني، نه د دوو جلا کلمو په توګه.که موږ د ترکیبي کلمې ترمنځ پوره فاصله وکاروو، کله چې دا ترکیبي کلمه د کرښې په پای کې راشي، نو یوه برخه به یې د یوې کرښې په پای او بله به یې د بلې کرښې په پیل کې راځي، خو د نیمه فاصلې په مرسته دا کلمه په یوه کرښه کې راځي او په متن کې د کلمو شمېر هم کمېږي. که د کلمې یوه برخه په یوه کرښه کې وی او بله یې بلې کرښې کې، نورې ستونزې هم پیدا کوي، استاد وحدت په همدې اړه د یوې پېښې یادونه کوي؛

" ... په ورځپاڼه کې د خلق د دیموکراتیک ګوند د رهبر (تره‌کي)، (کي) بلې کرښې ته لوېدلې و. سبا چې ورځپاڼه خلکو ولوسته، خبره د ګوند تر کنګرې ورسېدله چې د رهبر په نوم ملنډې وهل شوي او پرېکړه یې وکړه چې د ورځپاڼې مسوول مدیر مجازات شي". (2)

۳- نیمه فاصله زموږ سره د متن په لوستلو کې مرسته کوي. که موږ پوه شو چې دوې څنګ په څنګ راغلې کلمې یوه ترکیبي کلمه ده، نو یو ډول یې لولو، خو که دوې جلا کلمې وي، نو بیا یې بل ډول لولو. مثلاً: ( زړه خوږین او زړه‌خوږین، انسان ضد او انسان‌ضد).

۴- نیمه فاصله زده کوونکو ته په طبیعي ډول ترکیبي کلمې ښیي چې له دوو کلمو یا مورفیمونو رغېدلې دي. دا چاره له ښوونیزې موخې سره تړل شوې. څوک چې د نیمه فاصلې مخالف دي، وایي، کلمې باید جلا ولیکل شي، استدلال کوي چې ماشومان باید کلمې جلا جلا و پېژني. دوی هېروي چې موږ ماشومانو ته ساده کلمې لیکو. هغو ماشومانو ته چې د ترکیبي کلمو د لیکلو اړتیا وي، پکار ده چې یو ځای یا په نیمه فاصله ولیکل شي. دغو کسانو ته د ملک میرزا وړاندیز جالب ښکاري چې وایي:

"که ټول هدف زده کړه وي، بیا ولې د لاتینې کلمو په شان توري جلا ونه لیکو، لکه (ا ح م د) یا (ح ر و ف) په دې ډول به ماشومان توري زده کړي" (3).

د ښوونې او روزنې پر اساس هم موږ لومړی ماشومانو ته توري لیکو، چې طبیعي ده جلا وي، بیا د دوو یا دریو تورو څخه جوړې کلمې، بیا له څلورو او پنځو کلمې او وروسته بیا ترکیبي کلمې لیکو، نو نیمه فاصله د زده کړې په برخه کې نه یوازې خنډ نه ده، بلکې مرسته هم کوي.

۵- نیمه فاصله د متن له ښکلا سره مرسته کوي. فاصله او نیمه فاصله د لیکنښو برخې دي. په کابل پوهنتون کې د لیکوالۍ استاد پوهاند احمدشاه زغم وایي:

"لیکنښې د نورو دندو ترڅنګ متن ته ښکلا ور ښښي" (4).

نیمه فاصله هم متن ته ښکلا وربښي. البته له دې امله چې تر اوسه پورې نیمه فاصله په منظم او پلان شوې ډول په پښتو کیبورډ کې نشته، نو ځکه یې ښکلا هم ډېره محسوسه نه ده. که د پښتو کیبورډ او فونټونو متخصصین دې چارې ته پام وکړي، نو بیا به دا ښکلا محسوسه شي.

۶- نیمه فاصله د مانا په سم لېږد کې مرسته کوي، ځکه چې که موږ د ترکیبي کلمې برخې جلا جلا ووایو، یوه مانا لري، خو که یې د یوې کلمې په شان ووایو، نو بله مانا لري. له همدې امله نیمه فاصله د مانا په سم لېږد کې مرسته کوي. مثلا؛ "زده کړه" او "زده‌کړه" چې لومړی ترکیبي امر دی، یعنې " زده یې کړه" او دویم بیا ترکیبي نوم دی.

۷- ځیني کسان بیا وایي چې نیمه فاصله د کلمو ترمنځ د لیک یووالي هم راولي، خو دوی بیا دا چاره دومره جدي ګڼي چې پر اصولو او قواعد هم اغېز کوي، خو زما په نظر دا چاره باید پر اصولو هېڅ اغېز ونه کړي. په فارسي کې ددې نظر پلویان وایي:

" پکار ده چې "بدبخت او خوشبخت" دواړه یو شان ولیکل شي، چې په املا کې وحدت راشي، نو "خوش‌بخت" هم په نیمه فاصله غوره دی چې له "بدبخت" سره یو شان راشي". (5).

نیمه فاصله په پښتو کې چېرته وکاروو؟

د نیمې فاصلې اړتیا، موخو او د پښتو مورفیمونو، کلمو او ترکیبي کلمو جوړښت او ځانګړنو ته په پام سره زه ځینې هغه ځایونه په ګوته کوم چې نیمه فاصله پکې کارول کېږي. دا به یو وړاندیز وي چې د متخصصینو له خوا یې له منل کېدو، غني کېدو او پرې د لیکوالو او لیکپوهانو تر هوکړې وروسته به د کارونې وړ وي. اوس دا ځایونه لنډ بیانوم:

تړلي مورفیمونه

ځینې تړلي مورفیمونه چې تر خپلواک مورفیم وړاندې او وروسته راځي او جلا کلمه جوړوي او یا هم نوې مانا پیدا کوي:

• **بې**

په اوسنیو پښتو لیکنو کې موږ وینو چې "بې" کله له کلمې سره یو ځای شوې وي او کله هم جلا لیکل شوې وي. که "بې" له بل مورفیم یا کلمې سره نوې کلمه جوړوي، نو ښه ده چې په نیمه فاصله ولیکل

شي. لکه: (بېګټې، بې ارزښته، بې اندازې، بې اړتیا ، بې اغېزې، بې خوبه، بې زړه، بې صبره، بې باکه، بې عمله، بې ثباته، بې غمه، بې حوصلې، بې فکره، بې مینې، بې ساری، بې توله، بې ځایه، بې سترګو، بې کاره، بې واکه، بې غږه، بې وسه...). تکراروم چې دا هغه وخت کارول کېږي چې کله "بې" له بلې یوې کلمې یا مورفیم سره یوه اشتقاقي کلمه جوړوي. که داسې وي چې "بې" سربل وي او (له) یې غورځېدلی وي، بیا سربلي ترکیب دی او په نیمه فاصله یې لیکل سم نه دي. د لا وضاحت لپاره دا دوه مثالونه وګورئ ( احمد بېخوبه دی. احمد بې خوبه "بې له خوبه" بل کار نه لري.) په لومړۍ بېلګه کې نیمه فاصله او په دویمه کې بیا پوره فاصله راځي.

**• کم**

" کم" چې کله له وروسته مورفیم یا کلمې سره نوې کلمه جوړوي، که له کلمې سره یو ځای ولیکل شي، د کلمې د اوږدېدو یا بدرنګۍ سبب کېږي؛ نو په داسې ځایونو کې زه د نیمې فاصلې وړاندیز کوم، لکه: کم عقل، کم عمره، کم ارزښته، کم ظرفیته، کم کاره، کم صبره، کم بخته، کم ساری...)، خو په ځینو ځایونو کې چې د بدرنګۍ سبب نه کېږي، یو ځای لیکل یې غوره دي، لکه: کمزوری...

**• مه او نه**

"مه" چې د نهې او "نه"چې د نفي لپاره کارول کېږي، په پښتو کې معمولاً دوه ډوله لیکل کېږي: کله له کلمې سره یو ځای لیکل کېږي لکه؛ نلري، مځه او کله هم جلا؛ لکه نه لري، نه ځي. تر دې لیکنې وړاندې زما وړاندیز دا و چې باید جلا ولیکل شي او یو ځای لیکل یې سم نه دي، خو اوس دلته وړاندیز کوم چې که "نه" او "مه" له کلمې سره نیمه فاصله ولري، غوره به وي، ځکه چې "مه" او "نه" دواړه ناخپلواک مورفیمونه دي او له فعلونو سره تصریفي اشتقاق جوړوي: نه دی، نه ده، نه دي، نه لري، نه ځي، نه مني، نه کوي، نه راځي، نه خوري، نه ژاړي... . همداسې؛ مه وایه، مه ځه، مه کوه، مه ژاړه، مه راځه....

**• هم**

" هم" چې که وروسته مورفیم یا کلمې سره نوې اشتقاقي کلمه جوړوي، باید له کلمې سره یو ځای ولیکل شي. که "هم" له کلمې سره یو ځای ولیکل شي، د کلمې د اوږدېدو یا بدرنګۍ سبب کېږي، نو په داسې ځایونو کې زه د نیمې فاصلې وړاندیز کوم، لکه: هم زولی هم دوره، هم سویه. په دې ډول نیمه فاصله د هغو کلمو تلفظ هم اسانوي، چې تر "هم" وروسته راځي او په "م" پیل وي: هم مهاله، هم مسلکی...

**• وال**

"وال" چې کله د کلمې په پای کې راشي، نو له کلمې سره یو ځای کېږي، خو کله چې کلمه په پای کې زور"ه" یا زورکی "ه" ولري، نو بیا له کلمې سره نه یو ځای کېږي، ځکه چې که یو ځای شي، نو د کلمې

په منځ کې د زورکي یا زور تلفظ پر "h" تلفظ اوړي. "باندہ وال"، چې په "باندہوال" یې لیکل سم نه دي. که یو ځای کولی یې نه شو، جلا لیکل یې هم ځکه سم نه دي، چې "وال" له مخکنۍ کلمې سره جلا کلمه جوړوي، نو ښه ده چې په نیمه فاصله یې ولیکو، لکه؛ ( کامه وال، وسله وال، مینه وال باندہ وال، جلګه وال، باندہ وال، ازره وال، پانګه وال....)

د "والی" مورفیم هم په همدې کټه‌ګورۍ کې راځي. لکه؛ (غوره والی، کره والی، سوچه والی، ښه والی...).

کله د کلمې په پای کې (ه) لوېږي او بیا وال یا بل مورفیم له لومړني مورفیم سره یو ځای کېږي. دا د ویپوهنې جلا بحث دی، خو ددې لپاره چې په زور یا زورکي ختم شوي مورفیمونه او ورپسې د نورو مورفیمونو د یو ځای کېدو بحث لاندې بیا بیا تکرارېږي، نو یوازې د ویپوهانو ددې خبرې لنډه یادونه کوو چې کله فشار په وروستۍ خپه وي، نو (ه) نه لوېږي. خو که د ویپوهنې د قاعدې پر اساس (ه) ونه لوېږي، نو موږ یې په نیمه فاصله لیکو.

• **ییز**

دا مورفیم دوه حالتونه لري. که کلمه په بېواک ختمه وي، د "یز" په بڼه یوځای لیکل کېږي او که په خپلواکغږ ختمه وي، د "ییز" په بڼه ورسره یو ځای کېږي، خو کله چې له کلمې څخه جلا لیکل کېږي، غوره ده چې په نیمه فاصله ولیکل شي. لکه؛ ( سیمه ییز، ډله ییز، سوله ییز، جګړه ییز، جوله ییز، خوله ییز، باندہ ییز، چره ییز، وسله ییز...). دلته که د "ییز" او کلمې ترمنځ پوره فاصله ورکړو، بیا داسې شوې لکه دوې بېلې کلمې، په داسې حال کې چې "ییز" له مخکنۍ کلمې یا مورفیم سره واحده کلمه جوړوي. که فاصله ور نه کړو، نو بیا یې تلفظ بدلېږي او په منځ کې راغلی زور او زورکی "h" تلفظ کېږي. له همدې امله غوره ده چې په نیمه فاصله ولیکل شي.

• **یي**

دا وروستاړی هم که له هغو کلمو سره راځي چې پر زور یا زورکي ختم وي، نو ښه ده چې ترمنځ یې نیمه فاصله ولیکل شي. لکه؛ ( نشه یي، جمله یي، کلمه یي، باندہ یي، منطقه یي، ګله یي، حمله یي، دره یي، جوړه یي...)

• **توب**

دا مورفیم له کلمې سره یو ځای کېږي، خو کله چې د هغه کلمو په پای کې راځي چې په زور یا زورکي ختمې شوې وي او ورسره نوې کلمه جوړه کړي، نو ښه ده چې په نیمه فاصله ولیکل شي، لکه؛ (کره توب، ښه توب، غوره توب، سوچه توب...).

**• تون**

دا مورفيم هم له کلمو سره يو ځای راځي، خو کله چې له هغو مورفيمونو يا کلمو سره راشي چې په زور يا زورکي ختم شوي وي او ورسره نوې کلمه جوړه کړي، نو ښه ده چې ترمنځ يې نيمه فاصله وليکل شي، لکه؛ (وسله تون، مېږه تون، زېرمه تون...).

**• مار**

کله چې (مار) مورفيم د يوې کلمې يا مورفيم په پای کې راشي او نوې کلمه جوړه کړي، نو نيمه فاصله ورسره کارول کېږي. لکه؛ (جګړه مار، جرګه مار، داړه مار...)

**• من**

کله چې دا مورفيم د بل هغه خپلواک مورفيم يا کلمې په پای کې راشي چې په زور يا زورکي ختم شوی وي او نوې کلمه جوړه کړي، نو ترمنځ يې نيمه فاصله کارول غوره دي. لکه؛ (هيله من، ګيله من...).

• له خپلواکو مورفيمونو رغېدلي کلمې

۱- هغه ترکيبي کلمې چې له خپلواکو مورفيمونو رغېدلې وي او لومړی مورفيم يې په زور او زورکي ختم وي، ښه ده چې په منځ کې يې نيمه فاصله وکارول شي. کېدای شي يوه ترکيبي کلمه له دوو يا څو خپلواکو مورفيمونو او يا هم له دوو خپلواکو او يو يا دوو ناخپلواکو مورفيمونو جوړه وي. نيمه فاصله له هغه خپلواک مورفيم وروسته راځي چې په زور يا زورکي ختم شوی وي. لکه؛ (جګړه ځپلی، زلزله ځپلی، زړه خوږلی، فراه مېشتی، ميمنه مېشتی، قاهره مېشتی، بانډه مېشتی، سوله ساتی، جګړه خوښی، مېلمه پال، سوله پال، سوله خوښی، جګړه خوښی، جګړه پالی، هوکړه ليک، سوله مل، دولت جوړوونه، دولت جوړوونکی، تازه دمی...).

۲- هغه ترکيبي کلمې چې لومړی مورفيم يې په "ی" پای ته رسېدلی وي، پکار ده چې په منځ کې يې نيمه فاصله وليکل شي، لکه؛ (خدای بښلی، زوی مړی، خدای وهلی، لوی ږيری...).

۳- هغه ترکيبي کلمې چې دويم مورفيم يې په داسې اواز پيل شي، چې لومړی توری پرې ختم شوی يا ورته نږدې وي. دا چاره د تلفظ پر مهال ستونزه جوړوي، نو پکار ده چې جلا وليکل شي. لکه: (همفکرتوب پالنه، زړورتوب پالنه...). په فارسي ژبه کې هم دا اصل شته.

> « له دې امله چې د نيمې فاصلې يوه دنده دا ده چې له اسانه لوستلو سره مرسته وکړي، له همدې امله په داسې حالاتو کې نيمه فاصله کارول کېږي». (6)

کله ترکيبي کلمې داسې وي چې که يو ځای وليکل شي، نو لوستل يې ستونزمنېږي او يا هم بدرنګې رامنځته کوي. ښه ده چې په دا ډول ترکيبي کلمو کې نيمه فاصله وکاروو. لکه؛ (ازادي غوښتونکی،

بېلتون غوښتونکی، پراخ بنسټه، تاریخ جوړونکی، سپین پوستی، لیک نښې، تاریخ تېر، کمونسټ ډوله، سپین رږیری، سپین سری، سپین واسسکټی، انسان پېژندونکی، حیوان صفته.

۴- هغه ترکیبي کلمې چې دویمه برخه یې په (ا) پیلیږي، پکار ده چې په نیمه فاصله ولیکل شي. لکه: غچ اخیستونکی...

**• اباد**

د "آباد" مورفیم چې له ځینو کلمو سره راځي او د ځایونو د نومونو لپاره ترکیبي نومونه جوړوي، پکار ده چې ترمنځ یې نیمه فاصله وکارول شي، لکه؛ (اسلام آباد، عشق آباد، زور آباد، مسلم آباد، جلال آباد، سید آباد، شیخ آباد، دوغ آباد، حسین آباد...).

**• کلا**

هغه ترکیبي نومونه چې"کلا" مورفیم یې په پای کې راځي او د یوې کلا یا ځای د نومونې لپاره کارول کېږي، پکار ده چې په نیمه فاصله ولیکل شي. لکه؛ ( موسی کلا، اسلام کلا، ملک کلا، حسن کلا...).

خو که په ترکیبي نوم کې د اضافت توری (د) راشي، نو بیا باید جلا ولیکل شي. لکه؛ ( د احمدخیلو کلا، د دولت خیلو کلا، د بست کلا...).

**• خېل**

"خېل" مورفیم چې د ترکیبي کلمې په پای کې راځي، له کلمې سره یو ځای کېږي، خو کله چې لومړۍ کلمه یا مورفیم په زور یا زورکي ختم وي، نو بیا په نیمه فاصله لیکل کېږي. لکه؛ (تره خېل، پیره خېل، ادینه خېل...).

ډېری وخت که "خېل" له کلمې سره یو ځای ولیکل شي، د بدرنګۍ سبب کېږي، پکار ده چې دلته هم په نیمه فاصله ولیکل شي. لکه ( ابراهیم خېل، دولتی بس خېل، سلیمان خېل، اسماعیل خېل...).

**• عددي ترکیبونه**

په هغو عددي ترکیبونو کې هم نیمه فاصله کارول کېږي، خو چې لومړۍ برخه یې په زور یا زورکي پای ته رسېدلې وي. کله داسې وي چې د عددي ترکیب دواړه برخې عدد وي. لکه؛ (دوه ویشت، پینځه ویشت، اووه ویشت، اته ویشت، نهه ویشت، دوه دېرش، دوه پنځوس، پینځه پنځوس، اوه پنځوس، اته پنځوس، دوه اویا، پینځه اویا، اووه اویا، اته اویا، نهه اویا، دوه سوه، پینځه سوه، اوه سوه، اته سوه، نهه سوه...).

کله داسې وي چې د عددي ترکیب یوه برخه عدد وي ، لکه؛ (دوه ګوني، درې ګوني پینځه ګوني، لس ګوني، سل ګوني...).

یا هم لکه؛ (سل مخیز، دوه پوښه، دوه سری، درې ماشینه، څلور ټایره، څلوېښت متره...).

**• جوړه ترکیبونه ( جوړه تړنګونه)**

دا اسمي ترکیبونه چې اصلاً د "او، و" په مرسته جوړیږي، خو ډېر کله پکې دا وییکي یا غورځي او یا هم یوازې "و" پاتې کېږي. استاد زیار وایي:

"د جوړه تړنګ مانا یا د غړو وییونو له ماناوو سره یو مخیز توپیر او تضاد لري، یا یې یو څه ښکارندويي کوي او یا هم د یو بل جاج بشپړوي او ټینګښت وربښي"(7)

که په دغو ترکیبونو کې طبیعي نیمه فاصله نه راتلله او حروف یې سره یو ځای کېدل، نو ښه ده چې په نیمه فاصله ولیکل شي: (روغه جوړه، مرګ ژوبله، مرګ و ژوند، لوږه تنده، پاک سپېڅلی، مړی ژوندی، غاړې غړونه، سپکې سپورې، سړې تودې، تودې سړې، هسکې ټیټې، لوړې ژورې، وږی تږی، لوړې ځوړې، لیک لوست، تګ راتګ، خوږې ترخې، سړې تودې، راشه درشه، راکړه ورکړه، پوله پټی، اخ و ډب، روغ رنځور، غم وښادي، دوست و دښمن، بوره بدنامه، وران پردی، وران ویجاړ، لوڅ لغړ، دانګې وانګې، تش تپاک، ناسته ولاړه، وچ کلک، کلی‌کور، لوی واړه، چال چلند...).

**• مهمل ترکیبونه**

دا هغه ترکیبونه دي چې د ترکیب یوه برخه مانا نه لري. ځیني ژبپوهان دا نه مني چې دا یوه برخه یې بې مانا ده، ځکه وایي چې د مانا په پراختیا یا نورو چارو کې دا برخه مرسته کوي. استاد صدیق الله رښتین دا بحث د الفاظو د تکرار تر عنوان لاندې بیانوي او وایي:

"دا تکرارونه د ځینو معنوي مقصدونو لپاره هم راځي، یعني کله پکې مقصد تاکیدوي او کله هم ورځخه یوه بله مانا هم اخستل کېږي چې هغه مانا له یوه لفظ څخه نه شي مرادېدای"(8)

استاد رښتین په همدې بحث کې او استاد زیار پښتو وییپوهنه او وییرغاونه کې د دغو ترکیبونو پر ډولونو او څرنګوالي اوږد بحث کوي چې دلته زموږ موضوع نه ده. موږ دلته یوازې همدومره وایو چې د دغو ترکیبونو ترمنځ باید نیمه فاصله وکارول شي. لکه: (ادلون بدلون، جبب مبب، قلم ملم، کتاب متاب، خوب موب، سرک مرک، لیک میک، ستن من، سترګه مرګه، سوچ پوچ، هک پک، یخ پخ، څوکۍ موکۍ).

د جوړه او مهمل ترکیبونو په پاسنیو مثالونو کې تاسې ولیدل چې په ځینو کې د منځ "او، و" لوېدلي او په ځینو کې یوازې "و" شته. استاد زیار وایي:

"دا دواړه همانیز دي او یوازې غږیز (فونېټیکي) توپیر لري)، همدغه (او) دی چې د ښکواکپایو وییونو په زیاته کارېدنه پر (و) اوړي" ( 9)

خو دلته د ترکیب بحث دی او ښکاري چې د ترکیب جوړولو لپاره (و) ډېر وخت غورځي.

**• مرکب نومونه**

په افغانستان کې ډېر خلک ترکیبي نومونه لري او بیا چې تخلص هم ورسره ولیکل شي، نو داسې ښکاري، لکه درې کلمې چې وي. که څه هم ځیني کسان تخلص په وړو قوسونو کې لیکي، خو که په وړو قوسونو کې ونه لیکل شي، نو بیا د نوم او تخلص په جلا کولو او یا هم په ویلو کې ستونزه وي. دلته ښه ده چې په ترکیبي نوم کې نیمه فاصله او له تخلص سره بیا یوه فاصله وي. لکه؛ (الطاف حسن ناصري، شفیع اعظم اوریا خیل، جمال ناصر اصولي...).

د نیمې فاصلې د کارونې پر وړاندې ننګونې

په پښتو کې د نیمې فاصلې د کارونې له اړتیا او ګټو سره سره یې د کارونې پر وړاندې ځینې ستونزې شته چې زه یې دلته یادونه کوم.

۱- **خپلسري**

ځیني کسان پوهېږي چې چېرته باید نیمه فاصله وکارول شي، خو له دې امله چې تر اوسه پرې لیکپوهانو او لیکوالو توافق نه دی کړی، نو نه یې کاروي. ستونزه دا ده چې په افغانستان کې داسې کوم مرکز نشته چې د لیک په تړاو وروستۍ پرېکړه وکړي او بیا ټولو ته د منلو وړ وي، نو ځکه توافق ته رسېدل هم ستونزمن دي. اوس که توافق نه وي او ځیني کسان یې په خپلسري ډول کاروي، نو دا بیا هم ستونزه ده، ځکه چې کېدای شي د کارونې پر ځای یې هم توافق نه وي. زه هم له همدې امله چې تر اوسه پرې پوره یا نسبي توافق نشته، نیمه فاصله نه کاروم او آن د نیمې فاصلې په اړه په دې لیکنه کې مې هم نه ده کارولې. که د نیمې فاصلې کارونه په نسبي توافق هم دود شي، نو ښه پرمختګ دی، خو که څو کسان یې کاروي، نو دا بیا په لیک کې د خپلسرۍ او ګډوډۍ سبب ګرځي.

۲- **عامېدل**

له توافق وروسته دویمه چاره یې د عامېدو ده. د نیمې فاصلې یوه موخه مو دا یاده کړه چې ماشومان د کلمو پولې وپېژني او ترکیبي کلمې درک کړای شي. اوس دا مهم او اساسي کار دی چې څه ډول دا نیمه فاصله د ښوونځیو کتابونو ته ننوځي او هلته مراعات شي. په رسنیو، کتابونو او متونو کې یې کارول او عامېدل یوه ستونزه ده چې وخت او جدي کار ته اړتیا لري.

۲- **د فونټ او کیبورډ ستونزه**

نیمه فاصله لاهم زموږ په زیاترو پښتو فونټونو او کیبورډونو کې په معیاري ډول نشته. که هم په ځینو کیبورډونو کې په (Shift + B) یا هم (Shift+backspace) سره لیکل کېږي، خو په ټولو کیبورډونو کې داسې نه ده. دغه راز دا ستونزه د موبایل په کیبورډونو کې شته. ددې تر څنګ کله نیمه فاصله د متن د کاپي او پېسټ پر مهال یا ځینو وېبپاڼو ته د پورته کولو پر مهال له منځه ځي او د متن د

ګډوډۍ سبب ګرځي. ددې تر څنګ اوسنۍ شته نیمه فاصله په ځینو ځایونو کې د بدرنګۍ سبب ګرځي. ځیني نورې ستونزې هم شته، چې د فونټونو جوړوونکي، متخصصین او تخنیکي پوهان دا ستونزه حل کولی شي.

**پایله**

په هغو اندو اروپایي ژبو کې چې عربي توري کاروي د نیمې فاصلې کارول اړین دي. نیمه فاصله د مانا له کره لېږد ، د ترکیبي کلمې او ساده کلمو ترمنځ له توپیر، اسانه لوستلو او د لیک له ښکلا سره مرسته کوي. له همدې امله پکار ده چې نیمه فاصله وکارول شي. د نیمې فاصلې کارول به زموږ د لیک ځینې ستونزې حل کړي او ورو ورو به پښتو لیک لا زیات معیاري او کره شي. نیمه فاصله تر ډېره په هغو ترکیبي او اشتقاقي کلمو کې کارول کېږي چې سره یو ځای کول یې ستونزمن یا ناشوني وي. کله دا کلمې له خپلواکو مورفیمونو او کله هم له تړلي او خپلواکو مورفیمونو رغېدلي وي. ددې لپاره چې د نیمې فاصلې کارول په پښتو کې هم مروج شي، پورته یې په تفصیل سره د کارونې ځایونه په ګوته شول. خو ددې لپاره باید د ټولو او یا ډېرى لیکوالو او لیکپوهانو توافق وي. په خپلسري ډول یې کارول د ګډوډۍ او ستونزو لامل کېږي. ددې ترڅنګ د نیمې فاصلې تخنیکي ستونزې او خنډونه باید لرې شي. له دغو چارو وروسته باید نیمه فاصله وکارول شي، عامه شي، ورو او په تدریج سره د پښتو لیک برخه شي. دا لیکنه یو وړاندیز دی چې په دې برخه کې به بحث او توافق ته لاره پرانیزي.

## حوالې

( 1 )زيار، مجاور احمد، ليک لارښود، د ساپي پښتو څېړنې او پراختيا مرکز پېښور، (۱۳۸۵)،مخ ۳۵

(2) وحدت، عبدالسميع. د سمونې لارښود. کابل: پکتوس، (۱۳۹۷) ،مخ 94

(3) بهروز، ذبيح الله. ايران کوده، ( نهمه ګڼه) تهران: مرکز مجله ايران کوده، (۱۳۹۳)،مخ 13

(4) زغم، احمدشاه. معاصره ليکوالي.: د افغانستان ملي تحريک، فرهنګي څانګه کابل،( ۱۳۹۶)، مخ 242

(5) داوودي، حسين،راهنماي نګارش مواد اموزشی.: انتشارات امير کبير تهران (۱۳۸۳) ،مخ 44

(6) سميعي، احمد ،نګارش و ويرايش.: سازمان سمت تهران،(۱۳۸۵) ،مخ 25

(7) زيار، مجاور احمدپښتو وييپوهنه او وييرغاونه.: مومند خپرندويه ټولنه جلالآباد،(۱۳۹۳)،مخ 614

(8) رښتين، صديق الله،پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه (دويم چاپ).: د ساپي پښتو څېړنې او پراختيا مرکز پېښور، ( ۱۳۸۳)،مخ 159

(9) زيار، مجاور احمد ،پښتو پښويه. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، (۱۳۸۴) ،مخ 202